


پینځلس ورځنی

# سره میاشت

ارگان نشراتی جمعیت هلال احمر افغانی

گڼه: ۲۱ — ۱-۱۵ ذوالقعدة الحرام، ۱۴۴۴ هـ.ق


## زابل، هلمند، کندهار او ارزگان ولایتونو کې د افغاني سرې میاشتې د استازو پرانېست غونډې

د ذوالقعدې پر ۴مه په زابل، ۵مه پر کندهار او پر ۷مه نېټه هلمند ولایت کې د افغاني سرې میاشتې د سرپرست عمومي رئیس ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص له لوري په ټولنه کې د افغاني سرې میاشتې د استازو پرانېست غونډې د ټولنې، ولسي وگړو او د افغاني سرې میاشتې تر منځ د اړیکو د پیاوړتیا په موخه ترسره شوې.

د یادو پرانېست غونډو پر مهال د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص دزابل ولایت د غونډو گډونوالو ته له ښه راغلاست وروسته وویل "مونږ به تر خپلې وسې د بېوزلو هېوادوالو لاسنیوی کوو؛ افغاني سره میاشت چې هر څه لري هغه د اړمنو حق دی".

نوموړي وویل "مونږ هڅه کوو، د زابل ولس ته په کندهار کې د سوري زړه په ناروغۍ د اخته ماشومانو د درملنې بهیر پیل کړو، چې سمدستي مو دې برخه کې ازمایښتي گام اخیستی".

ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص وویل "د اړمن غړ تر مونږ را رسول شپه او ورځ نه لري؛ چېرته چې هم په ټولنه کې د افغاني سرې میاشتې استازي سخت ترین اړمن وومي، نو باید په همغه شیبه یې تر مونږ غږ را ورسوي".

همدا راز د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس هلمند ولایت کې د استازو د پرانېست غونډې پر مهال د هلمند ولسونو ته په خطاب کې وویل "زمونږ لپاره ویاړ دی، چې مونږ ته د افغاني سرې میاشتې په اُمورو کې د نه شفافیت هیڅ ثبوتي سند په لاس ندی راغلی".

نوموړي ولسي استازو ته په خطاب کې وویل "مونږ او تاسې ته وخت په لاس راغلی، چې ملتونه راپورته کړو او پر خپلو پښو یې ودروو؛ تاسې په دې هڅه کې مونږ ته لاس راکړئ، ستاسې غږ به مستقیم تر موږ را رسېږي، تاسې د افغاني سرې میاشتې مټ او بازو شئ او د ولس غږ تر مونږ راورسوئ".

کندهار ولایت کې هم د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس د وینا پر مهال تېرې څرگندونې تازه کړې او ویې ویل "له افغاني سرې میاشتې سره شته توکي د ولس حق دی؛ مونږ چې کله هم مرسته ترلاسه کوو، نو مستقیم یې تر اړمنو رسوو، خو د توکو د کمښت له امله مونږ نه یو توانېدلي ټولو اړمنو ته مرسته ورسوو".

نوموړي یادو پرانېست غونډو ته په اشاره وویل "له مونږ سره اندیښنه وه، چې څنگه هغه ریښتیني اړمن ومومو، چې لرې پرتو سیمو کې اوسي او زمونږ د کارکوونکو او رضاکارانو له سترگو پناه دي؛ په همدې بنسټ مو په ټولنه کې د افغاني سرې میاشتې د استازو د ایجاد گام واخیست".

ښاغلي خالص وویل "په ټولنه کې د افغاني سرې میاشتې د استازو له ایجاد وروسته دوی ته مسؤلیت راجع کېږي، چې په خپلو سیمو کې ریښتیني اړمن ومومي او د گډ خدمت په روحیه یې افغاني سرې میاشتې ته را وپېژني".

نوموړي زیاته کړه "ولس راپورته کول زمونږ گډ مسؤلیت دی؛ مونږ که ریښتیني اړمن راپورته کړو، نو ولاړ خلک به هم له لویدو ژغورل شوي وي، همدا راز تاسې باید له مونږ سره لاس یو کړئ، مونږ او تاسې باید په گډه د اړمنو لاسنیوی وکړو؛ دا ولس زموږ گډ ولس دی".

سرپرست عمومي رئیس وویل "موږ کابل ته د جنوبي ولایتونو د وگړو له تگ د خلاصون په موخه کندهار کې د سوري زړه په ناروغۍ د اخته ماشومانو ازمایښتي پړاو پیل کړی، چې دوی به د کابل پر ځای دلته خپل ماشومان راوړي او وړیا درملنه به یې کېږي.

د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس د خپل سفر په ترځ کې ارزگان ولایت کې هم د استازو پرانېست غونډه ترسره کړه .

نوموړي د ارزگان ولایت د غونډې گډونوالو ته خطاب کې وویل "تاسې به له مونږ سره د اړمنو د لاسنیوي د وجیبې ترسره کولو کې لاسنیوی او ملاتړ کوئ؛ مونږ پر دې کار کوو، چې څنگه خپل ولس له غُربت وژغورو او د کوچنیو کاروبارونو له لارې یې پر خپلو پښو ودروو".

سرپرست عمومي رئیس وویل "زمونږ هڅه ده له مرسته کوونکو بنسټونو ډېرې مرستې راجلب کړو او تر اړمنو یې ورسوو".

د یادو غونډوگډونوالو وویل "مونږ د افغاني سرې میاشتې خدمات ستایو، په پوره اخلاص به گډ خدمت ورسره ترسره کوو او مونږ به له لزوم سره سم را سپارل شوې وجیبه سرته رسوو".

## والی ارزگان با سرپرست ریاست عمومی هلال احمر افغانی دیدار نمود



مولوی محمدعلی جان احمد والی ارزگان از حضور محترم مولوی مطیع الحق خالص در این ولایت استقبال و از حضور ایشان برای رسیده گی به مردم ارزگان تشکری نمود. در این دیدار محترم مولوی مطیع الحق خالص علاوه بر صحبت در مورد هدف از ایجاد نماینده گان در ولایت ارزگان اظهار داشت که: « مردم ارزگان متحمل آسیب های زیادی شده اند و لازم است تا خدمات بیشتری به آنان ارائه شود». وی گفت: "هلال احمر افغانی مصمم است تا کمک ها را به خانواده های نیازمند در مناطق دورافتاده کشور تنظیم نموده و به آنها رسیده گی نماید."

محترم مولوی محمدعلی جان احمد والی ارزگان در سخنانی خود گفت: "ما برای هر نوع همکاری با هلال احمر افغانی آماده خواهیم بود؛ نیازها و مشکلات مردم ارزگان بسیار زیاد است و امیدواریم که به طور گسترده به آنها رسیده گی شود». وی روند ایجاد نماینده گان هلال احمر افغانی را در جامعه مفید خواند.

## د هلمند والي د افغاني سرې میاشتې له سرپرست عمومي رئیس سره ولیدل



د هلمند والي مرستیال مولوي عبدالرحمان کندوزي د ذوالقعدې پر ۷مه هلمند ولایت کې د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص سره لیدنه وکړه.

ښاغلي مولوي عبدالرحمان کندوزي د افغاني سرې میاشتې له سرپرست عمومي رئیس سره د هلمند د ولسونو بشري ستونزې او اړتیاوې شریکې کړې او غوښتنه یې وکړه، چې د تېرو شلو کلونو جگړو د هلمند ولایت ولسونه ځپلي؛ نو اړینه ده لاسنیوی یې وشي او له غُربت وژغورل شي.

ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص مرستیال والي ته ډاډ ورکړ، چې هلمند کې به د بېوزلو کورنیو لاسنیوی او ملاتړ کوي او په همدې موخه یې هلمند ولایت ته سفر کړی. نوموړي په هلمند ولایت کې په ټولنه کې د افغاني سرې میاشتې د استازو د ایجاد د موخو او اړتیاو د څرگندولو په ترځ کې په کندهار ولایت کې د جنوبي ولایتونو لپاره د افغاني سرې میاشتې د رواني ناروغانو د ساتنې او درملنې د مرکز یادونه وکړه او څرگنده یې کړه، چې په یاد مرکز کې د هلمند د ولسونو پوره حق دی او باید خپل رواني ناروغان د درملنې لپاره ور ولېږي. نوموړي د افغاني سرې میاشتې د فعالیتونو پر استقلالیت او ناپېیلتوب او په هلمند ولایت کې د افغاني سرې میاشتې په راتلونکو فعالیتونو هم خبرې وکړې.

## ۱۶ عراده موتر لندکروز برای هلال احمر افغانی کمک شد

بتاریخ ۱ ذی القعده، کمیته بین المللی صلیب سرخ ۱٦عراده موتر لندکروز تویوتا را که مجهز به سیستم مخابراتی هستند، به محترم مولوی مطیع الحق خالص سرپرست ریاست عمومی هلال احمر افغانی تسلیم نمودند. از این وسایل نقلیه برای کمک های بشردوستانه در ولایت های مختلف استفاده قرار خواهد شد.

## توزیع ۳۰ میلیون افغانی توسط هلال احمر افغانی در ولایت هرات!



در ادامه کمک به فقرا و جنگ زدگان، به تاریخ ۵ ذوالقعده، هلال احمر افغانی برای ۱۰۰۰ خانواده نیازمند و مستحق در ولسوالی پشتون زرغون ولایت هرات پول نقد کمک نمود.

در کمک های توزیع شده به هر خانواده ۳۰۰۰۰ سي هزار افغانی مساعدت گردید.

## هلال احمر افغانی برای ۶۰۰ خانواده در ولایات پروان و نورستان کمک توزیع نمود



به تاریخ ۸ ذی القعده، از سوی هلال احمر افغانی ۲ تُن خرما، که توسط بنیاد خیریه ملک سلمان تهیه شده بود، برای ۲۰۰ خانواده نیازمند، یتیم و بی سرپر۸ست در مناطق نوآباد و خلازه مرکز ولایت پروان توزیع شد، که به هر خانواده ۱۰ کیلو خرما مساعدت گردید. همزمان برای ۴۰۰ خانواده از سوی هلال احمر افغانی برای مردم دیوانه بابا ولسوالی برگمتال ولایت نورستان کمک های غذایی توزیع شد.

## د سوري زړه په ناروغۍ د ۱۱۲ تنه اخته ماشومانو درملنه



د افغاني سرې میاشتې له لوري د سوري زړه په ناروغۍ د اخته ماشومانو د تداوۍ لړۍ په چټکۍ پرمخ روانه ده، د روان ۱۴۴۴ سپوږمیز کال د ذو القعدې له لومړۍ تر ۱۵مې نېټې افغاني سرې میاشتې د سوري زړه په ناروغۍ اخته ۱۱۲ تنه نور ناروغ ماشومان پلازمېنه کابل کې د درملنې او عملیاتو په موخه مختلفو داخلي روغتونونو ته ور وپېژندل. افغاني سرې میاشتې تېرو شاوخوا ۱۰ میاشتو کې د سوري زړه په ناروغۍ اخته ۱۲۰۳ ماشومان بېلابېلو روغتونونو ته د درملنې او عملیاتو په موخه ورلېږلي دي، هېره دې نه وي، چې د یادو مریضانو د درملنې ټول لگښت د افغاني سرې میاشتې په غاړه دی.

## سریزه

## د افغاني سرې میاشتې د خدمتونو ځانگړتیاوې

د نړۍ په هر هېواد کې بېلابېلې ټولنې شتون لري، خو دا ټولنې د موخو، ځانگړنو او کاري چاپېریال له پلوه خورا لوی توپیر لري، په دوی کې بیا ځینې خیریه او مرستندویه ټولنې وي، چې موخه یې اړمنو او بې کسه وگړو ته مرستې رسول او د هغوی لاسنیوی وي، خو د بشرپالو خدمتونو کاري چاپېر یال یې محدود وي او نه شي کولای د یو هېواد هرې برخې ته خپل خدمتونه وغځوي، خو په ډېر شمېر هېوادونو کې بیا داسې خیریه ټولنې هم شته، چې بشرپال خدمتونه یې د هېواد هرې برخې او سیمې ته رسېږي.

له نېکه مرغه په افغانستان کې مونږ یوه داسې خیریه ملي، بشرپاله او ناپلوې ټولنه لرو، چې بشرپال خدمتونه یې د هېواد گوټ گوټ ته رسیږي، ددې خیریه ملي ټولنې موخه اړمنو، ناروغانو او پېښځپلو ته مرستې او درمل رسول او لاسنیوی دی او انساني کرامت ته یې په درنه سترگه کتل دي، د جگړې په ډگر کې ټپیانو ته لومړنۍ روغتیایي مرستې رسوي او یا یو خوندي ځای ته لېږدوي.

دا راز له کورنیو د ورکو شویو غړیو، اسیرانو او بې ځایه شویو لټون او موندنه او له کورنیو یا د دوستانو سره یې اړیکه ټینگول د افغاني سرې میاشتې یو با ارزښته او ځانگړې فعالیت دی.

تر څنگ یې په ټولنه کې د داسې معیوبو، بې سرپرسته کونډو او یتیمانو پالنه هم کوي، چې نه شي کولای د ژوند لومړنۍ اړتیاوې پوره کړي، نو داسې بېوزله او زیانمنو وگړو ته خوراکي، غیر خوراکي او نغدي مرستې رسول د افغاني سرې میاشتې دنده ده، ځکه دا ټولنه په هر ځای کې د هر چاه لپاره تر شعار لاندې د سیمې، ژبې، رنگ او ټبر په پام کې له نیولو پرته اړمنو او ناچاره هېوادوالو ته خدمات ترسره کوي او تل د هغو وگړو په لټه کې ده چې تر نورو ډېر اړ وي.

افغاني سره میاشت هر اړمن او پېښځپلي ته هغه څه رسول غواړي چې د هغه تر ټولو لومړنۍ اړتیا وي، لکه د سیلاب ځپلي یا زلزله ځپلي تر ټولو ستره اړتیا دا وي چې، یوه خیمه ولري تر څو یې د عیال سر ترې لاندې خوندي شي، یوه پلاستیک ته اړ ناست وي چې جامې او خواړه یې له ورښت نه په امن شي، یا د ابو یوه بوشکه؛ تر څو پاکې اوبه پکې وساتلی شي، نو افغاني سره میاشت دې اړتیاو ته په پام سره بېلابېل خوراکي او غیر خوارکي توکي چمتو او اړمنو ته یې په خپل وخت رسوي.

دا شان د اړمنو روزنه او هغوی ته د زده کړو زمینه برابرول هم د افغاني سرې میاشتې د خدمتونو له ځانگړنو څخه دي، چې په مرستونونو کې یې د نورو وړیا خدمتونو تر څنگ مشمولینو ته برابره کړې ده.

په عمومي توگه مرستندویه او خیرپال وگړي او ټولنې د یو څه مودې لپاره بېوزلو او اړمنو سره مرستې کوي، خو افغاني سرې میاشتې خپلې خیریه کړنې تر یوې مودې یا یوې پېښې پورې نه دي محدودې کړې، بلکې له تېرو ۹۴ کلونو راهیسې یې په خپل وخت په ځانگړې توگه د پېښې په لومړنیو شیبو کې چې تر ټولو سختې شیبې وي او پېښځپلي هر لور ته په همدې تمه گوري چې څوک یې مرسته او لاسنیوی وکړي؛ خپلې خیریه کړنې ترسره کړې دي او د پېښو د اغېزو تر کمېدو یې جاري ساتلي..

همدا ډول د افغاني سرې میاشتې رضاکاران هم لومړني وگړي وي د ورته پېښو پر مهال سیمې ته له نورو مخکې ځانونه رسوي او د اړمنو او پېښځپلو لاسنیوی کوي، چې دا لړۍ په کومې ځانگړې پېښې یا کوم وخت پورې محدوده نه ده، بلکې د کال په اوږدو کې، چې هر مهال او هر چېرې کومه پېښه رامنځته شي؛ افغاني سره میاشت هلته خدمات ترسره کوي.

**د افغاني سرې میاشتې نښان د سولې، گډ ژوند او بشرپالنې سمبول دی.**

# د افغاني سرې میاشتې سرپرست عمومي رئیس کندهار ولایت کې د افغاني سرې میاشتې له مسئولینو سره ګډه اداري ناسته ترسره کړه

ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص مسئولینو ته په خپلو خبرو کې وویل "خدمت باید د شخصي ګټو پر بنسټ نه وي، بلکې د افغاني سرې میاشتې هر کارکوونکی باید د اړومنو د لاسنیوي په جذبه دنده ترسره کړي او د اړمنو لاسنیوی خپله ایماني او کاري وجیبه وبولي".

نوموړي وویل "له افغاني سرې میاشتې سره د مرستې هر شته توکی زمونږ د مظلوم ولس حق دی او باید د امانت په سترګه ورته وکتل شي؛ ترڅو څنګه چې لازمه ده په همغه ډول د ولس لاسنیوی شوی وي".

ښاغلي مولوي مطیع الحق خالص وویل "د افغاني سرې میاشتې له نورو ادارو سره توپیر په دې کې دی، چې دلته هر مسئول او کارکوونکی د ولس راعي دی او باید د راعي په څېر د ولس خدمت وکړي". نوموړي له کارکوونکو غوښتنه وکړه، چې په اخلاص او صداقت چارې ترسره کړي او د همغږۍ پر بنسټ اُمور تنظیم کړي.

# نقش جمعیت هلال احمر افغانی

## در مبارزه با تغییرات اقلیمی در ولایت هرات

عزیز احمد «متین» مدیر نشرات نمایندگی هرات



تغییر اقلیم (Climate change) به تغییرات آب و هوا گفته می‌شود تغییراتی که برای یک دوره طولانی مدت دوام می‌آورند.

با در نظر داشت تعریف فوق تغییر اقلیم یکی از مهم‌ترین چالش‌های قرن جاری در تمام جهان به خصوص افغانستان است. دمای زمین به دلیل فعالیت‌های انسانی در حال افزایش است و تغییرات آب و هوایی اکنون همه جنبه‌های زندگی انسان را تهدید می کند.

اگر کنترل نشود، انسان و طبیعت با گرم شدن فاجعه بار دمای زمین همراه با تشدید خشکسالی، افزایش بیشتر سطح آب دریاها و انقراض دسته جمعی گونه‌ها مواجه خواهند شد.

افغانستان به صورت عموم دارای اقلیم خشک و نیمه‌خشک قاره‌ای است بر اساس یافته‌های دانشمندان، مناطقی که دارای اقلیم خشک است، از جمله آسیب‌پذیرترین مناطق در برابر تغییرات اقلیمی هستند. وقوع سیل‌هایی با شدت بالا، گرمایش زمین، سرمای بی‌موقع، تکرار بیش‌تر خشک‌سالی‌ها، بالا آمدن سطح آب بحرها، طغیان آفات و بیماری‌های گیاهی، کاهش ضخامت لایه اوزون، گرم شدن جهانی هوا و ذوب شدن یخ‌های دایمی از جمله مواردی است که بحث تغییر اقلیم را در دهه جاری در جهان و بالاخص افغانستان بیش‌تر مطرح کرده است.

هلال احمر افغانی به مثابه یک نهاد خیریه ملی، بی طرف و مستقل در همه مواقع در کنار مردم مصیبت زده و آسیب دیده قرار داشته و از آنها تا حد امکان دستگیری به عمل آورده که در این اواخر بیشترین کمک های بشردوستانه را برای آسیب دیده گان از سیلاب ها، خشکسالی ها، زلزله زده گان رسانیده است.

و اما در قسمت مبارزه با تغییرات اقلیمی هلال احمر افغانی با درک این معضل فراگیر مکلفیت خود میداند تا حد توان و با همکاری موسسات خیریه ملی و بین‌المللی به نیازمندی های مردم در زمینه تغییرات اقلیمی پاسخدهی کند.

جمعیت هلال احمر افغانی از طریق ایجاد پروژه تغییر اقلیم در ریاست نمایندگی هلال احمر ولایت هرات این خدمات خود را به مردم آسیب دیده می رساند، طوری که در طی سال جاری خدمات زیادی درین راستا انجام داده است از جمله توزیع ۴۲۰۰۰ نهالی مثمر (سیب، بادام، زردآلو، انگور، انار پسته و آلو) طبق شرایط آب و هوای برای چهار ولسوالی هرات (غوریان، کهسان، رباط سنگی و کشک کهنه) جهت مبارزه با تغییرات اقلیمی و بلند بردن اقتصاد خانواده های بی بضاعت با هماهنگی ریاست زراعت، علاوه بر آن برای نگهداری هرچه بهتر این نهالها برای مستفیدین این برنامه آموزش های لازمه داده شده و هم مواد و وسایل مورد نیاز (سمپاس، قارچ‌کش، حشره‌کش، قیچی شاخه بری، اره، چاقوی پیوند، لباس تحفظی و...) توزیع گردیده است

و همچنین در این ولسوالی ها کمیته های کاهش خطر و مصئونیت از طریق این پروژه ایجاد شده و وسایل و تجهیزات مربوطه برای شان تهیه گردیده تا در مواقع سیلاب، زلزله و عواملی ناشی از تغییرات اقلیمی و محیطی آماده گی داشته باشند تا باشد دردی از درد های آسیب دیده گان کاهش یابد،

این گوشه از خدمات جمعیت هلال احمر افغانی در ولایت هرات برای مبارزه با تغییرات اقلیمی بود و در بخش های (صحت از طریق دو کلینیک ثابت، سه تیم سیار، تداوی بیماران مصاب به سوراخ قلب، پوکی استخوان، سوختی شدید، بیماران روانی در این ولایت و... در بخش آموزش برگزاری صنوف آموزشی در کلوپ جوانان برای عموم، برگزار ترینګ های کمک های اولیه و دیگر ترینګ ها برای ارتقاء ظرفیت جامعه در ساحات مختلف، رسیده گی به حالات اضطرار و توزیع مواد کمکی غذایی و غیر غذایی) سالانه برای هزاران خانواده های مستحق و بی بضاعت ازین خدمات مستفید می‌شوند. همه و همه این کمک ها و خدمات از طرف جمعیت هلال احمر افغانی است اما لازم به ذکر است که اینها به تنهایی ممکن نیست این ها نتیجه کمک های افراد خیر و موسسات ملی و بین‌المللی است، یقیناً که آرزوی همه کمک رسانی به آسیب دیده گان از حوادث و مبارزه با تغییرات اقلیمی است و هلال احمر افغانی برای کاهش درد و رنج مردم کمک های شما را با کمال امانت داری به دسترسی آسیب دیده ترین قشر جامعه قرار می‌دهد امیدواریم که مردم خیرخواه کشور با سهمگیری شان در این امر نیک، رسالت دینی، وجیبه انسانی و ملی خویش را با مساعدت های شان تبارز دهند.



# خپل ځان ته څنګه ارزښت ور کړو؟

لیکنه: احمد محسن مل

هر انسان چې دې نړۍ ته راځي، خامخا هغه یو داسې څه په خپل ځان کې لري، چې هغه په نورو انسانانو کې کم یا نه وي. که چېرې یو څوک د خپل ځان په ارزښت پوه نه شي، هغه به ټول عمر په دې دنیا کې عبس تېر کړي او په پای کې مړ شي او کیسه به یې ختمه شي. په دې لیکنه کې هڅه کوو، چې دا موضوع وڅېړو، چې څنګه کولی شو خپل ځان ته ارزښت ور کړو، څه ډول خپل ځان ټولنې او خلکو ته د خدمت په موخه ور وپېژنو. لکه څرنګه مې چې په پیل کې یادونه وکړه، چې هر انسان په دې نړۍ کې ځانګړې ارزښت لري، خو کله داسې هم کېږي چې همدا انسان د خپل ځان په ارزښت پوه نه شي او خپل ټول ژوند داسې عبس تېر کړي، چې نه خپل ځان ته ګټه ورسوي او نه بل انسان ته ګټه ورسوي. ددې لپاره چې په خپله ټولنه کې ارزښت پیدا کړو، نو تر ټولو لومړۍ باید د خپل ځان وړتیاوې، اهمیت او ارزښت وپېژنو.

۱. د خپل ځان اړوند سوچ وکړه، چې ته ماشوم یې، ځوان یې او یا هم د ډېر عمر یې. ضرور به ستا په شاوخوا کې داسې څوک وي، چې تا ته به احترام کوي، تا سره به ملګرتیا کوي، په تا به باور کوي، تا سره به مینه کوي، ته به ورته ګران یې، له تا به مشوره اخلي، تا به ځینو ځانګړیو مراسمو ته غواړي او همدارنګه په یو څه نه، په یو څه کې به تا ته اړتیا لري. که ته د ځان اړوند فکر وکړې، نو خامخا به خپل ځان ته وایې، چې ته په دې نړۍ کې یوازې نه یې، یو څوک تا ته اړتیا لري او یو څوک ستا په ارزښت پوه دی، نو د ځان اړوند به دې ضرور دا فکر غښتلی کېږي، چې زه په خپله ټولنه کې د پام وړ کس یم.

۲. د خپلو وړتیاو په اړه فکر وکړه. علم دې کړی دی، په ښه و بد پوهېږې، ښه اخلاق لرې، کوم ځای استاذ یې ټولنې ته خدمت کوې، د خبرو کولو هنر لرې همدارنګه خپل ټول مهارتونه او هنرونه دې خپلې مخې ته کېږده. کله چې داسې وکړې، نو خامخا به د خپل ځان اړوند دا فکر کوې، چې کولی شم، چې خپلې ټولنې ته خدمت وکړم، خپل ځان خپلو موخو ته ورسوم، کولی شم، چې بل څوک له خپلو وړتیاو څخه برخمن کړم او په خپله ټولنه کې د یو مطرح شخص په توګه ژوند وکړم.

۳. د خپلې روغتیا په اړه دې فکر وکړه. رک روغ یې، ځوانې لرې، هېڅ رواني تکلیف نه لرې. شته ډېر داسې خلک، چې هغوی ستا په څېر له روغتیا برخمن نه دي، په ورځو او شپو په روغتونونو کې پراته دي او له درد او ستونزو ډکې شپې او ورځې تېروې. ته چې روغ و جوړ بدن لرې، ولې په خپل ځان شکر نه وباسې او ولې له دې خپل روغ وجود څخه سمه ګټه نه اخلې.

۴. شته ځینې خلک، چې د خپل تېر ژوند په سبب له راتلونکي ژوند مایوس او خپه دي. یوه خبره باید یاد وساتو، چې موږ نه شو کولی، چې په خپل تېر ژوند کې بدلون راولو؛ ځکه هغه تېر شوی دی. موږ یوازې کولی شو، چې له تېر ژوند څخه په راتلونکي کې د لارښود په توګه کار واخلو. دا په دې مانا، چې خپلې تېروتنې باید بیا ځل تکرار نه کړو او هغه څه چې زموږ د پرمختګ سبب شوي دي، هغې ته دوام ور کړو. نو د همدې له مخې یو څوک باید د خپل تېر ژوند اړوند دومره فکر ونه کړي، چې خپل راتلونکی ژوند له خطر سره مخ کړي او باید خپل ځان ته په دې ډاډ ور کړو، چې زه اوس هم ډېر وخت او ډېر څه په لاس کې لرم، چې کولی شم، خپل راتلونکی په ښه لوري رهبري کړم.

۵. کوښښ باید وشي، چې خپل ځان ته عالي هدفونه وټاکل شي، تر څو د یو په پوره کېدو سره؛ په خپل ځان ویاړ وکړې او د بل هدف لپاره اړینه انرژي واخلې، چې زه کولی شم، چې خپلو هدفونو ته یو په یو ورسېږم او خپلې هیلې پوره او تر سره کړم. هر څه هغه وخت ارزښت پیدا کوي، چې په هغه کې یو کمال موجود وي. موږ که د خپل ځان اړوند همدا ډول فکر وکړو، نو ضرور موږ په خپل ځان کې ډېر کمالونه وینو، چې ددې په مرسته کولی شو، خپل ځان ته ددې ډاډ ور کړو او په دې وویاړو، چې زه په خپله ټولنه کې ارزښت لرم، ټولنه ما ته اړتیا لري او همدارنګه زه یو داسې څه کولی شم او داسې صفتونه لرم، چې په بل چا کې نشته.

# جوزجان ولایت کې د افغاني سرې میاشتې روزنیز مرکز

افغاني سره میاشت د هېواد په ۳٤ ولایتونو کې د خپلو نمایندګیو ترڅنګ د ځوانانو او رضاکارانو د روزلو او هغوی ته په بېلابېلو برخو کې د دیني او عصري زده کړو ورکولو په موخه ښوونیز مرکزونه (کلوپونه) هم رامنځ ته کړي، چې له ډلې یې یو هم د جوزجان ولایت د مرکز شبرغان ښار ښوونیز مرکز دی. د افغاني سرې میاشتې موخه د ښوونیزو مرکزونو له رامنځته کېدو څخه داده؛ ترڅو د هغو کورنیو ماشومانو ته د وړیا زده کړو زمینه برابره کړي، چې د اقتصادي ستونزو له امله نشي کولای خپل ماشومان شخصي ښوونیزو مرکزونو ته د زده کړو په موخه ولېږي او همدارنګه وکولای شي د یادو ښوونیزو مرکزونو له لارې په مخدره توکو د ځوانانو له روږدېدو او په ټولنه کې یې له بدو اغېزو مخنیوی وکړي.

د جوزجان ولایت د ځوانانو او رضاکارانو ښوونیز مرکز، چې اداري چارې یې د یوتن نارینه مدیر او یوې ښځینه مدیرې له لوري پرمخ وړل کېږي؛ د ښوونې او بدني روزنې په برخوکې ۸ کسه رضاکار ښوونکي هم لري، چې په ورځنۍ توګه په لاندې برخو کې په وړیا توګه د بېوزلو او اړمنو کورنیو ماشومانو ته زده کړې ورکوي.

۱- دیني زده کړې ۲- د انګلیسي ژبې زده کړه ۳- ریاضیات ٤- دري ٥- کمپیوټر او بدنې روزنه.

دا راز په یاد ښوونیز مرکز کې ټولټال (۲۲۰) تنه زده کوونکوي په زده کړو بوخت دي، چې په وړیا توګه زده کړې ترلاسه کوي. د یادوني وړ ده، چې د جوزجان نماینده ګۍ ریاست په ښوونیز مرکز کې یو باب مجهز کتابتون هم شتون لري؛ چې په ورځنۍ توګه د نماینده ګۍ کارکوونکي، د روزنیز مرکز زده کوونکي، رضاکاران او د شبرغان ښار عام وګړي په کې بېلابېل کتابونه لولي او ګټه ترې پورته کوي.

# کندهار ولایت کې ۱۵۰۰ کورنیو ته د ۹۳ تنه خوراکی توکو مرسته

افغاني سرې میاشتې کندهار ولایت ارغنداب ولسوالۍ کې ۱۵۰۰ بېوزله او بې سرپرسته کورنیو ته ۹۳ ټنه خوراکي توکي ووېشل. یاده مرسته چې د ملک سلمان خیریه بنسټ له لورې چمتو شوې وه پکې هرې کورنۍ ته ۴۰ کیلو وړه، ۵لیتره غوړي، ۲کیلو خرما، ۵کیلو بوره، ۵کیلو وریژې او ۵ کیلو لوبیا شامل وو.


د اړیکو شمېرې: ۰۷۲۸۹۰۰۶۷۴ – ۰۷۲۸۹۰۰۱۰۳

پست بکس: ۳۰۶۶

پته: افغانستان، کابل، پېنځمه ناحیه، سیلو افشار، د افغاني سرې میاشتې مرکزي دفتر

www.arcs.af ir@arcs.af

@arcsafghanistan


**نشان هلال احمر افغانی نماد صلح، همزیستی و بشر دوستی میباشد.**



Bi-Weekly

# SRA MIASHT

Dissemination Department of ARCS

21 May - 4 June, 2023 Volume: 21

## Inauguration ceremonies of ARCS representatives in the community were held in Zabul, Helmand, Kandahar, and Uruzgan provinces

On the 24th 25th and 27th of May, Mr. Mawlavi Matiul Haq Khalis, Acting President of ARCS, attend the inauguration ceremonies of the representatives of Afghan Red Crescent in the community in Zabul, Helmand, Kandahar and Uruzgan provinces.

During these meeting, Acting President of Afghan Red Crescent, Mr. Mawlavi Matiul Haq Khalis, after welcoming the participants of the meetings in Zabul Province, said, "We will try our best to reach needy people as much as possible ".

He said, "We are trying to start the process of treating children suffering from ventricular septal defects for the resident of Zabul province in Kandahar, and we immediately took a pilot step in this regard." Mr. Mawlavi Matiul Haq Khalis said, "There is no time limit to reach to the voice of the vulnerable wherever the representatives of Afghan Red Crescent find the most vulnerable in the society, they should be reached on time ". Also, during the opening meeting of representatives in Helmand province, the Acting president of Afghan Red Crescent said, "We are proud that we have no evidence of lack of transparency in the affairs of the Afghan Red Crescent."

Addressing the people's representatives, he said, "it's the time to raise the nations and stand them on their feet; we shall work together to reach them, Be the supporters of Afghan Red Crescent and convey the voice of the people to us." In Kandahar province president of Afghan Red Crescent repeated his statements and stated, "The items available with Afghan Red Crescent are the right of the people; whenever we receive aid, we deliver it directly to the vulnerable. But due to the lack of material, we have not been able to help all those in need".

Acting president said, "We have started a trial phase for children suffering from ventricular septal defects in Kandahar province, so the people of the southern provinces instead of going to Kabul they will have to check up & treat their children here.

During his visit, the Acting President of the Afghan Red Crescent also attended inauguration ceremony of representatives in Uruzgan province. Addressing the participants of the meeting in Uruzgan province, he said, "You will support us in carrying out the duty of reaching out to the needy people ; we are working on how to save our people from poverty by running small businesses." The Acting president said, "We are trying to attract a lot of aid from donor and deliver it to the needy people".

The participants of these meetings said, "We appreciate the services of Afghan Red Crescent, and we work jointly with full sincerity and we will fulfill the assigned duties as required".

### Editorial:

## Characteristics of ARCS activities

There is in the world Every country has various organizations, each with distinct goals, objectives and operational contexts. Among them there are some benevolent and aid societies, whose purpose is to provide assistance to needy and vulnerable people. While the working environment of these organizations is limited and they are not able to reach every part of the country. Nonetheless, several countries host benevolent societies that manage to extend their humanitarian services comprehensively, reaching even the most remote corners of the country.

Fortunately, in Afghanistan we have such a charitable, humanitarian and impartial national society that extends its charitable and humanitarian services to every corner of the country. The core objective of this society revolves around delivering assistance, supplies, and medications to individuals in need, saving their human dignity during times of crisis, offering first aid to battlefield casualties and relocating wounded to secure environments. Similarly, a significant and unique contribution of Afghan Red Crescent involves, tracking and restoring family link with their missing beloved one, prisoners, and displaced individuals, facilitating their communication with their loved ones or associates.

Besides, the organization extends its care to support individuals with disabilities, headless widow and orphaned members of society who lack the means to fulfill their essential life necessities. Consequently, this is the responsibility of Afghan Red Crescent to provide essential aid in the form of food, non-food items, and cash assistance to these needy and vulnerable individuals, meantime this society provides services to the needy and vulnerable people without giving any consideration to regions, languages, ethnicities, colors, and castes, Under the slogan for everyone, everywhere," also the organization diligently seeks out individuals whose need is more pronounced.

ARCS strives to provide basic assistance to all individuals who are in need and have been impacted by various disasters, like floods or earthquakes, in such situations, one of the most fundamental requirements is ensuring shelter for affected families, plastic sheets for keeping their clothes and food protected from rain, and for having access to clean water calls for the provision of water buckets. Recognizing these necessities, Afghan Red Crescent takes into account these specific needs and provides both essential food and non-food items to vulnerable people

Like other free services, ARCS also provides education and learning facilities to needy and vulnerable beneficiaries of Marastoons.

Generally, charitable and benevolent people and societies help people for limited time but ARCS has not limited their charitable activities to a specific period of time. Particularly during the initial and most challenging moments of events, the organization steps in, offering a glimmer of hope to victims who desire assistance and support, while ARCS Over the past 94 years, consistently upheld its assistance to vulnerable people until the necessity condition is over.

Likewise, Afghan Red Crescent's volunteers are being the first responders to such events, and swiftly reaching out to vulnerable and needy people. This process is not related to a specific time or event but during the year ARCS provides its services whenever and wherever disaster take place.

## The deputy governer of Helmand province met with the President of ARCS

On 7th of May, Mawlavi Abdul Rahman Kunduzi ,deputy governer of Helmand province met with Mawlavi Matiul Haq Khalis Acting President of ARCS.

In the meeting Mr. Maulvi Abdul Rahman Kundozi shared the humanitarian problems and needs of the people of Helmand with the Acting President of Afghan Red Crescent and requested that the people of Helmand province have been affected by the past 20 years war so it is necessary that they shall be helped & saved from poverty.

Mr. Mawlavi Matiul Haq Khalis assured the deputy governor that he will reach out and support the needy families in Helmand and that's why he visited to Helmand province.

During the discussion about the objectives and requirements of Afghan Red Crescent representative in Helmand province, He highlighted the necessity of psychiatric patients center in Kandahar province.

He emphasized that the people of Helmand province have the complete entitlement to send their psychiatrist patient to this facility center to receive appropriate care.

Moreover, He briefed on plans on activities of Afghan Red Crescent and its forthcoming endeavors in Helmand province.

## Mr. Mawlavi Mati-Ul-Haq "Khalis" Acting General President of ARCS met Mawlavi Muhammad Ali Jan "Ahmad" governor of Uruzgan province

Mawlavi Muhammad Ali Jan "Ahmad" governor of Uruzgan province warmly welcomed Mr. Khalis to this province and thanked him for reaching and helping the people of Uruzgan province.

In meeting, Mr. Khalis besides talking on objectives of ARCS inauguration ceremony, stated that the people of Uruzgan have been suffered a lot and it is necessary to provide them vast services.


He added that ARCS has planned to provide aid to the vulnerable families living in remote areas of the country.

On the other hand, Mawlavi Muhammad Ali Jan "Ahmad" said that we are ready to provide all kind of cooperation to ARCS.

He added that Uruzgan people have many needs and problems, we hope that they will be widely addressed.

At the end of meeting, he called ARCS representatives program in the society fruitful.

## Treatment of 112 children suffering from ventricular septal defects



The program of treatments of children suffering from ventricular septal defects is going on swiftly, From 21 of May to the 4th of June, ARCS introduced 112 children suffering from ventricular septal defects to different domestic hospitals for therapy and surgery treatment in the capital, Kabul.

It's commendable that over the past 10 months, ARCS has referred 1203 children suffering from ventricular septal defects for therapy and surgery treatment to different hospitals, where the whole cost of those patients is paid by ARCS.

## ARCS distributed aid to 600 families in Parwan and Nooristan provinces



On the 7th of June, ARCS distributed 2 tonnes of dates provided by the King Salman Charity Foundation to 200 needy orphans and headless families in Naw Abad and Khalaother areas of the capital of Parwan province.

Meantime, ARCS distributed foodstuffs to 400 families in the Bargmatal district of Noorisatn province.

## Mr. Mawlavi Mati-Ul-Haq "Khalis" Acting General President of ARCS had joint meeting with officials of ARCS, in Kandahar province

In meeting, Mr. Khalis stated that service should never be based on personal interests, while every employee of ARCS should carry out their duty with the passion of reaching out the needy people and consider helping the vulnerable people as their faithful duty and job.

Mr. Khalis told that whatever ARCS has in its hand is the right of Oppressed people which should be kept as trust and distributed to vulnerable people as required.

Likewise, Mr. Khalis told that the difference of ARCS with other organizations is that every official and employee of ARCS is a servant of the people and should serve the people as a servent.


At the end of meeting, Mr. Khalis called on employees to carry out their duties with sincerity and honesty and organize the affairs based on cooperation.

## 16 land cruisers were donated to ARCS

On the 21 of May, Mr. Mawlavi Matiul Haq "Khalis" Acting President of ARCS received 16 Toyota land cruisers which are equipped with a communication system from ICRC.

These land cruisers will be used to provide humanitarian services in several provinces.

**Afghan Red Crescent's emblem is a symbol of peace, coexistence, and humanism.**



سره میاشت

نصف شهرية

قسم النشر في الهلال الأحمر الأفغاني

العدد: ٢١ — ١-١٥ ذو القعدة الحرام، ١٤٤٤ هـ.ق


## اجتماعات افتتاحية لممثلي الهلال الأحمر الأفغاني في ولايات زابول، قندهار، أوروزكان وهلمند

قام الرئيس العام القائم بأعمال الهلال الأحمر الأفغاني السيد المولوي مطيع الحق خالص، بعقد اجتماعات افتتاحية لممثلي الهلال الأحمر الأفغاني في المجتمع، بهدف تعزيز العلاقات بين المجتمع والشعب وبين الهلال الأحمر الأفغاني، في ٤ من ذي القعدة بولاية زابول، في ٥ من ذي القعدة بولاية كندهار، في ٦ من ذي القعدة بولاية أوروزكان وفي ٧ من ذي القعدة بولاية هلمند.

وخلال الاجتماعات الافتتاحية، قال السيد خالص بعد الترحيب بالمشاركين في ولاية زابول: سنعاون المواطنين الفقراء قدر المستطاع، وكل ما يملكه الهلال الأحمر الأفغاني هو حق المعسرين.

وتابع: نحاول لشعب ولاية زابول البدء في مشروع علاج الأطفال المصابين بمرض ثقوب القلب بولاية كندهار، وقد اتخذنا خطوة تجريبية في هذا المجال.

وأضاف السيد خالص: إخبارنا بالمحتاجين وإيصال صوتهم إلينا لا يختص بليل أو نهار، أينما أو أيان وجد ممثلو الهلال الأحمر الأفغاني الأشخاص الأكثر احتياجا في المجتمع، يجب عليهم إعلامنا بندائهم في نفس اللحظة.

كما قال الرئيس العام القائم بأعمال الهلال الأحمر الأفغاني خلال الاجتماع الافتتاحي للممثلين في ولاية هلمند: نحن فخورون بأننا لم نتلق أي خبر على انعدام الشفافية في شؤون الهلال الأحمر الأفغاني.

وأضاف مخاطبًا ممثلي الشعب: حان الوقت لنا ولكم أن نعاون الناس، وأن نجعلهم معتمدين على أنفسهم، ساندونا في هذا المضمار، صوتكم سيصل إلينا مباشرة، كونوا معاوني الهلال الأحمر الأفغاني، أوصلوا صوت الشعب إلينا.

وفي ولاية قندهار، قام بإعادة تصريحاته السابقة خلال خطابه قائلا: إن البضائع المتوفرة لدى الهلال الأحمر الأفغاني من حق الشعب، وكلما تلقينا مساعدات نقوم بتسليمها للمحتاجين مباشرة بدلا من نقلها إلى المستودعات، ولكن بسبب نقص البضائع لم نتمكن من مساعدة كل المحتاجين.

وأضاف مشيرا الى تلك الاجتماعات الافتتاحية: كنا نفكر بشأن كيفية العثور على أولئك المحتاجين الحقيقيين الذين يعيشون في مناطق نائية وبعيدين عن أعين موظفينا ومتطوعينا؛ لذا، اتخذنا خطوة إنشاء ممثلي الهلال الأحمر الأفغاني في المجتمع.

وأوضح السيد خالص: بعد إيجاد مندوبي الهلال الأحمر الأفغاني في المجتمع، تحوّل المسؤولية إليهم للعثور على المحتاجين الحقيقيين في مناطقهم، وتوجيههم إلى الهلال الأحمر الأفغاني بروح الخدمة المشتركة.

وأشار السيد خالص في حديثه: أن معاونة الشعب هي مسؤوليتنا المشتركة؛ إذا ساعدنا المحتاج الحقيقي، فسوف يتم إنقاذ الأغنياء أيضا من الفقر، عليكم ان تؤازرونا في مساعدة المحتاجين، ويجب أن نعاون المساكين معا، هذا الشعب شعبنا المشترك.


وصرّح السيد خالص: من أجل عدم ذهاب سكان الولايات الجنوبية إلى كابول، بدأنا هنا في كندهار مرحلة تجريبية للأطفال المصابين بثقوب في الحاجز البطيني للقلب، وشعوب ولايات هلمند وزابول وأوروزكان سيأتون بأطفالهم إلى هنا عوضا عن ذهابهم بهم إلى كابول، وسوف يتم علاجهم من قبل الهلال الأحمر الأفغاني مجانا.

كما عقد الرئيس العام القائم بأعمال الهلال الأحمر الأفغاني خلال سفره اجتماعا افتتاحيا للممثلين في ولاية أوروزكان، وقال أثناء كلمته مخاطبا مشاركي الاجتماع: أنتم ستساندوننا وتدعموننا في أداء واجبنا، في معاونة المحتاجين، ونحن نعمل على كيفية تمكين شعبنا من الفقر ودعمهم من خلال المشاريع الصغيرة.

وقال الرئيس العام بالإنابة: نحاول جذب الكثير من المساعدات من المؤسسات المانحة وتسليمها للمحتاجين.

وقال مشاركو تلك الاجتماعات: نحن نشيد بخدمات الهلال الأحمر الأفغاني، وسنقوم بخدمة مشتركة معه بكل إخلاص وبأداء المهام والخدمات الموكلة إلينا قدر المستطاع.

## التقى نائب حاكم ولاية هلمند الرئيس العام القائم بأعمال الهلال الأحمر الأفغاني



التقى نائب حاكم ولاية هلمند المولوي عبد الرحمن كندوزي الرئيس العام القائم بأعمال الهلال الأحمر الأفغاني، السيد المولوي مطيع الحق خالص، في السابع من ذي القعدة.

أخبر السيد المولوي عبد الرحمن كندوزي الرئيس العام القائم بأعمال الهلال الأحمر الأفغاني المشاكل الإنسانية واحتياجات شعوب هلمند، وأضاف أن شعوب ولاية هلمند تأثرت بحروب السنوات العشرين الماضية، لذلك من الضروري معاونتهم وإنقاذهم من الفقر.

وطمأن السيد خالص نائب الحاكم أنه سيعاون الأسر الفقيرة في هلمند ويدعمها ولهذا الغرض أتى إلى ولاية هلمند، وفي معرض حديثه عن إيجاد وأهداف واحتياجات ممثلي الهلال الأحمر الأفغاني في المجتمع بولاية هلمند، أشار إلى مركز الهلال الأحمر الأفغاني لحماية وعلاج المصابين بأمراض نفسية للولايات الجنوبية في ولاية قندهار ،

وأوضح أن شعوب هلمند لهم حق كامل في ذاك المركز، ويجب أن يرسلوا مرضاهم النفسيين إليه للعلاج.

كما تحدث عن استقلالية وعدم تحيز أنشطة الهلال الأحمر الأفغاني والأنشطة المستقبلية للهلال الأحمر الأفغاني في ولاية هلمند.

## التقى حاكم ولاية أوروزكان الرئيس العام القائم بأعمال الهلال الأحمر الأفغاني


وقد رحب حاكم ولاية أوروزكان المولوي محمد علي جان أحمد بالسيد المولوي مطيع الحق خالص إلى تلك الولاية وشكره على قدومه لمعاونة أهالي أوروزكان.

وفي اللقاء قال السيد خالص إلى جانب أهداف إنشاء ممثلي الهلال الأحمر الأفغاني في المجتمع: لقد تضررت كثيرا شعوب أوروزكان، يجب تقديم المزيد من الخدمات لهم.

وأضاف أن الهلال الأحمر الأفغاني مصمم على تنظيم مساعدات للأسر المحتاجة في المناطق النائية من البلاد ومعاونتها.

وقال حاكم أوروزكان أثناء حديثه: نحن مستعدون لكل أنواع التعاون مع الهلال الأحمر الأفغاني، احتياجات ومشاكل شعوب أوروزكان كثيرة جدا، ونأمل أن يُعاوَنوا على نطاق واسع. واعتبر مشروع إيجاد ممثلي الهلال الأحمر الأفغاني في المجتمع مفيدا.

## تم التبرع بـ ١٦ عربة لاند كروزر إلى الهلال الأحمر الأفغاني



سلَّمت اللجنة الدولية للصليب الأحمر ١٦ عربة تويتا لاند كروزر، مزودة بنظام الاتصال للرئيس العام القائم بأعمال الهلال الأحمر الأفغاني، السيد المولوي مطيع الحق خالص, في الأول من ذي القعدة.


وسوف تستخدم هذه العربات في المساعدات الإنسانية بالولايات المختلفة.

## معونة التمور والمواد الغذائية لـ ٦٠٠ أسرة في ولايتي باروان ونورستان

في ٨ من ذي القعدة، وزع الهلال الأحمر الأفغاني طنين من التمور - أعدها مركز الملك سلمان الخيري - على ٢٠٠ أسرة محتاجة ويتيمة ومشردة بمنطقتي نواباد والخلازة التابعتين لعاصمة ولاية بروان. حيث تم إعطاء عشرة كيلوغرامات من التمور لكل أسرة.

وفي الوقت نفسه ، أسدى الهلال الأحمر الأفغاني معونة المواد الغذائية إلى ٤٠٠ أسرة لساكني منطقة ديوانا بابا التابعة لمديرية بركمتال بولاية نورستان.

## علاج ١١٢ طفلا مصابا بمرض الثقوب في القلب



مشروع الهلال الآحمر الآفغانى لعلاج الأطفال المصابين بالثقوب في القلب يجري بسرعة فائقة، من ١ إلى ١٥ من ذي القعدة عام ١٤٤٤، أحال الهلال الأحمر الأفغاني ١١٢ طفلا مصابا بثقوب في الحاجز البطيني للقلب لتلقي العلاج وإجراء العمليات الجراحية إلى المستشفيات المحلية المختلفة في العاصمة كابول.

والجدير بالعلم أن الهلال الأحمر الأفغاني - منذ حوالى عشرة أشهر - وجَّه ١٢٠٣ أطفالا مصابين بثقوب في الحاجز البطيني للقلب إلى المستشفيات المختلفة، حيث يدفع الهلال الأحمر الأفغاني تكلفة علاجهم بالكامل.

## المقدمة:

### خصائص خدمات الهلال الأحمر الأفغاني

كما هو معروف، أن الجمعيات الخيرية موجودة في كل دولة من دول العالم، لكنها تتفاوت تفاوتا كبيرا في ما بينها من حيث الأهداف والخصائص وبيئة العمل، منها، بعض الجمعيات خيرية وإغاثية، والتي تهدف إلى توصيل المعونات للمعوزين والمعسرين ومساعدتهم، لكن بيئة العمل لخدماتها الإنسانية تكون محدودة ولا يمكنها أن تمتد خدماتها البشرية إلى كل بقعة من البلاد، ولكن في المقابل، توجد أيضا في العديد من البلدان جمعيات خيرية ما تصل خدماتها الإنسانية إلى جميع أنحاء ومناطق البلاد.

لحسن الحظ، نملك في أفغانستان جمعية وطنية خيرية، إنسانية ومحايدة ما تمدد خدماتها الإنسانية إلى جميع بقاع البلاد، هدف هذه الجمعية الوطنية الخيرية هو السعي لتقديم العون للمحتاجين والإغاثة العاجلة لمتضرري الكوارث وتوصيل الدواء للمرضى والمصابين، مع مراعاة تبجيل كرامتهم الإنسانية، وتقديم الإسعافات الأولية للجرحى في ساحة المعركة أو نقلهم إلى مكان آمن، وهكذا، البحث عن أفراد الأسر المفقودين والسجناء والمشردين والعثور عليهم وإقامة اتصال مع عائلاتهم أو أصدقائهم نشاطا قيما وميزة منفردة للهلال الأحمر الأفغاني.

بالإضافة إلى رعاية المعاقين والأرامل والأيتام بلا عائل في المجتمع الذين لا يستطيعون تلبية الاحتياجات الأساسية للحياة، فإن تقديم المساعدات الغذائية وغير الغذائية والنقدية لهؤلاء الفقراء والمتضررين هو من الوظائف الأساسية للهلال الأحمر الأفغاني، لأن هذه الجمعية تقدم خدماتها للمعوزين والفقراء بغض النظر عن المنطقة واللغة واللون والطبقة الاجتماعية تحت شعار «للجميع في كل مكان» ويبحث دائما عن الأشخاص الأكثر احتياجا من غيرهم.

الهلال الأحمر الأفغاني يريد توفير الاحتياجات الأساسية والأولية لكل محتاج ومنكوب الكوارث، على سبيل المثال ، متضرو الفيضانات أو الزلازل، يكون احتياجهم الأكبر إلى الخيمة للحماية من الشمس، يحتاجون إلى القماش المشمع لحماية ملابسهم وطعامهم من المطر، أو إلى جالون ماء من أجل الحفاظ على المياه النظيفة، لذا، فإن الهلال الأحمر الأفغاني يقوم بتوفير وإعداد مختلف المواد الغذائية وغير الغذائية مراعاة لتلك الاحتياجات وتوصيلها إلى المحتاجين في وقتها اللازم.


كما يعد تعليم المعوزين وإتاحة الفرصة لهم ولأولادهم للدراسة من خصائص خدمات الهلال الأحمر الأفغاني التي وفرها لهم بالإضافة إلى خدمات أخرى مجانية، في مراكز الإعانة والرعاية (مراستون).

بشكل عام ، الأشخاص والجمعيات الخيرية وأصحاب خير يعاونون الفقراء والمحتاجين لبعض الوقت المحدد، لكن الهلال الأحمر الأفغاني لم يقصر ولم يحدد خدماته الخيرية على زمن أو حدث معين، ومنذ ٩٦ سنة الماضية، قام بأداء أنشطته الخيرية في وقتها المناسب واللازم.

خاصة في اللحظات الأولى من وقوع الحادث، وهي أهم وأصعب اللحظات للمتضررين، وهم منتظرون وينظرون في كل مكان على أمل أن يعاونه أحد وينقذه.

وهكذا، خلال مثل هذه الكوارث، فإن متطوعي الهلال الأحمر الأفغاني هم أول من يصلون إلى المنطقةالمنكوبة قبل غيرهم ويعاونون المحتاجين والمنكوبين، وأن هذه السلسلة لا تقتصر على حدث أو وقت معين، بل على مدار العام، متى وأينما يقع الحادث؛ يهرع الهلال الأحمر الأفغاني إليه ويقدم خدماته الإنسانية هناك.

## توزيع ٣٠ مليونا أفغانية من قبل الهلال الأحمر الأفغاني في ولاية هرات!



استمرارا لتقديم المساعدات الإنسانية للمحتاجين ومتضرري الحرب، قدم الهلال الأحمر الأفغاني في ٥ من ذي القعدة، مبلغا نقديا لـ ١٠٠٠ أسرة محتاجة ومستحقة، بمديرية بشتون زرغون في ولاية هرات.

وفي المساعدة الموزعة حصلت كل أسرة على مبلغ قدره ٣٠٠٠٠ أفغانية.

**شعار الهلال الأحمر الأفغاني رمز السلام والتعايش والإنسانية.**